
ډاکتر لمر ۲۰۱۲/۰۶/۰۸

# هېواد ته خدمت

لیکنه: نازک مزاج

درنو هېوادوالو! زما د لیکنو ژباړه نه خوښېږي، زیاتره هڅه کوم، چې د یوې پېښې په اړه څه ولولم او بیا یوه تحلیلي لیکنه پرې وکړم، مګر نن مې یو طنز ناڅاپي په یوه بربښناپاڼه کې په پارسي ولوست، نو هوډ مې وکړ، چې تاسو ته یې په پښتو واړوم. ما دغه طنز په آریایي نومي بربښنا پاڼه کې ولید، نو ډېر په زړه پورې راته ښکاره شو، نو سم د لاسه مې یې په ژباړه لاس پورې کړ، چې په ځینو برخو کې ژباړه له اصلي تکسته لږ توپیر لري، چې د لیکنې له لیکواله ښاغلي نازک مزاج نه، په دې اړه مخکې له مخکې بښنه غواړم، پرته له دغه تشبسه د لیکنې ژباړه بې خونده کېدله، نو ځکه ما دغه توپیر پکې راوست. د دغه طنزیه لیکنې ګټه به دې کې ده، چې یو لوستونکي ته د تحلیلي طنز او احصیایوي طنز ښکلاوې ښیي، نو د ځینو خلکو خبره په ټوکه یا طنز کې هم کله کله یوه زړه ریښتیا نغښتې وي او یا د ټولنیزو ناخوالو د بڅرکې ځلا او یا د بڅرکیو پړکا پکې راڅرګندېږي، نو تاسو د دغه ښکلي طنز د پښتو ژباړې لوستلو ته رابولم.
تر هغه ځایه چې آورېدل کېږي، نو د هېواد ټول نفوس ماشاالله تر ۲۹ میلیونو وګړو آوړي، ځکه نو غواړم، چې تاسو ته د هغو کسانو، چې له دغه لوی نفوسه یې د خپل ګران هېواد لپاره د زړه له کومې خدمت کړی وي، په څېړنیزه بڼه معلومات درکړم.
څنګه چې مخکې یاده شوه، د هېواد نفوس له ۲۹ میلیونو اوښتی دئ، چې له دغه نفوسه تر لس میلیونه او پنځسوه زره (۱۰۵۰۰۰۰۰) یې ماشومان او هغه تنکي ځوانان دي، چې عمر یې له ۱۸ کلونو کم دئ، چې دغه شمېره وګړي په هغو کسانو کې شمېرل کېږي، چې د هېواد خدمت ته نه دي جوګه، نو څه چې



پاتې کېږي هغه آتلس نیم میلیونه (۱۸۵۰۰۰۰۰) دي، چې له هغوی څخه لږ تر لږه ۴ میلیونه تنه یې په وزګاري کې تېروي او څه چې پاتې کېږي، نو هغه څوارلس نیم میلیونه (۱۴۵۰۰۰۰۰) خلک دي، چې له هغوی څخه ۲ میلیونه په ایران او دونیم میلیونه په پاکستان کې مهاجر دي او د افغانستان د دولت په اړه بدې ردې وایي، ځکه چې د دولت نوم خو هسې هم د «دو» او «لت» له مرکبي وراشي ناڅاپي نه دئ اېښودل شوی.
له پاتې لسو میلیونو وګړو، دوه میلیونه شهیدان شوي دي، چې پاتې یې ۸ میلیونه دي او له هغوی نه پنځه سوه زره د نړۍ په بېلابېلو ملکونو کې تیتو پرک دي، چې له لسو میلیونو څخه یوازې اوه نیم میلیونه (۷۵۰۰۰۰۰) نفره پاتې کېږي، چې له هغوی هم دوه میلیونه او پنځه سوه او پنځوس زره (۲۵۵۰۰۰۰) تنه متقائیدین، سپین سرې، سپیین ږیري او له پښو لوېدلي خلک دي او ۴۵۰ زره تنه ړانده او کاڼه دي او یا دروېزه کوي، نو څه چې له ټول نفوسه پاتې کېږي هغه نو څلورنیم میلیونه خلک دي.
له دغو څلور نیم میلیونو وګړو لږ تر لږه یو میلیونو اوسوه زره (۱۷۰۰۰۰۰) یې مولویان، ملایان، آیت الله خېل، حجت الاسلام او حجت المسلمین تشکیلوي او یو میلیونو دوسوه څلوېښت زره (۱۲۴۰۰۰۰) یې سندرغاړي، تبله چې، چنګ غږونکی، ربابي او یو یا دوه کوڅه ډب بدماشان دي. له خواشیني سره باید په ګوته شي، چې د ډمانو او ډولکچیانو په اړه کومه احصائیه نه شته ده.
له پاتو یو میلیونو پنځه سوه او پنځوسو زرو (۱۵۵۰۰۰۰) تنو نه تر دوه سوه زرو تنه (۲۰۰۰۰۰) د جنګ معلولین دي، چې له پاتو یو میلیونو دریسوه او پنځوسو زرو (۱۳۰۰۰۰۰) نفره د پنځه سوه زرو (۵۰۰۰۰۰) نه ډېر د اردو، پولیسو او ملي امنیت چاکران دي، چې وروسته له دې د هېواد له ټول نفوسه آته سوه او پنځوس زره (۸۵۰۰۰۰) وګړي پاتې کېږي.
له دغو آته سوه او پنځوسو زرو وګړو نه تر دریسوه او پنځوسو زرو (۳۵۰۰۰۰) پورې د ننني دولت په مخالفت کې وسلوال ځواکونه جوړ کړي دي او ورسره جنګېږي، نو له نیم میلیونه پاتې وګړو تر دوه سوه زرو (۲۰۰۰۰۰) یې جاسوسان او د بهرنیو ملکونو او ګاونډیو ګومارل شوي اجنټان دي او په ننني جګړه کې تر یو لک (۱۰۰۰۰۰) نفره په هېواد کې سرسام او سرګردان دي، نو له ټول نفوسه صرف دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) تنه پاتې کېږي.
خو له پاتو دوسو زرو (۲۰۰۰۰۰) نه (۶۵۰۰۰) نفره محصلین دي او (۳۵۰۰۰) تنه یې سیاسي بندیان، جنایي محبوسین، کیسه بران، خس دوزان او داسې نور تشکیلوي، نو هغه څه چې له ټول نفوسه پاتې کېږي یوازې یو لک (۱۰۰۰۰۰) تنه دي، چې له هغې نه (۹۰۹۴۰) نفره پوهریان او په نشیي توکو روږدي دي، خو په زړه پورې دا ده، چې د اسلامي افغانستان پوهریان د ایران د اسلامي جمهوریته خپل ټاټوبي ته په زور را ستانه شوي دي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د یادوني وړ ده، چې ۳۰۰۰ ناروغان په کوما (بې سده) حالت کې دي او یو شمېر یې د مړیني په کرښه دي یعنې د سا ایستنې په حالت کې دي، نو اوس ټول ټال ۶۰۶۰ نفره پاتې شول، چې له هغوی نه ۲۹۰۰ په اپوزېسیون پورې اړه لري او پرته له وسلې د کابل په کوڅو کې دیدوګري یا بدماشي کوي، چې بیا کله په دولتي ادارو کې وګومارل شي، نو سمدستي په متحدینو واوړي.

له پاتې ۳۱۶۰ تنو څخه تر ۱۰۰۰ پورې د سیاسي احزابو رهبران، مشاورین او مستشارئین دي، نو څه چې هلته او دلته پاتې کېږي ۲۱۶۰ تنه دي، چې له هغوی څخه له ۱۰۰۰ ډېر یې آسترلیا او نورو ملکونو ته د هجرت په مهال د سیندونو په اوبو کې ډوب شوي دي، چې د کبانو خوراک شول او ۵۵ تنه نور د تېر ژمي د یخني له کبله په بې کورۍ کې مړه شوي دي، چې ګڼشمېر یې ماشومان ول او همدا ډول ۲۰ تنه هغه وګړي دي، چې د یو لیوني امریکایي عسکر لخوا په کندهار کې وژل شوي دي.

له ۱۰۸۵ تنو څخه ۶۰ تنه قاضیان دي، چې په وروستۍ موده کې د بډو اخیستلو په تور بندیخانې ته لیږدول شوي دي او له پاتو ۱۰۲۵ تنو نه ۱۰۰۰ تنه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د محکمو مخښته ناست قسم خواره دي، چې څو ورځې مخکې له قاضیانو سره یو ځای نیول شوي دي، چې اوسمهال په زندانونو کې بلاتکلیفي کې ورځې شپې تېروي.

بس نو د هېواد له ټول نفوسه ۲۵ تنه پاتې شول، چې له هغوی نه ۹ نفره وزیران دي، چې وروسته له دوو کلونو جګرخوني یې د ولسي جرګې د باور رایه تر لاسه کړې ده او ۷ تنه هم په هلمند کې د یوې کورنۍ غړي دي، چې د ړندو بمبارۍ په ترڅ کې یې د چاودنې له امله خپل خواږه ژوندونه له لاسه ورکړي دي، نو له ۹ تنو پاتو نه ۷ تنه د آریانا تلویزیون ویاندویان دي، چې په نامعلوم دلیل یې له خپلې دندې لاس اخیستی او استعفا یې کړې ده.

ښه! اوس نو څه چې له ټول نفوسه په هېواد کې پاتې دي، هغه نو دوه تنه دي، چې یو یې زه یم چې لیکنې کوم او بل ته یې چې زما لیکنې لولي. زما خو پر سر سخت درد شو، نو ځکه باید ډاکټر ته ورشم، نو د هېواد د خدمت جوګه نه یم، نو پاتې ته شوې او هېواد! خو ښه به دا وي، مخکې له دې چې زه ډاکټر ته ورشم، نو ستا سره هم یوه حسابي وکړم، چې وپوهېږم، چې تاسو د خپل خواږه عمر څومره موده د هېواد چوپړ ته وقف کړې ده!

داسې به ګومان وکړو، چې تاسو عالي جناب ۵۵ کلن یاست. په پیل کې باید عرض وکړم، چې ستاسو نیم عمر یعنې ۲۷،۵ کاله په خوبونو تېر شوی دئ، نو پاتې شول نور ۲۷،۵ کلونه. ما ته دا مهمه نه ده، چې تاسو نیمایي عمر په خوب تېر کړی، مګر دا غوره ده، چې تاسو ۲۷،۵ کلونه وېده یاست.

له څېړنو داسې ښکاري، چې تاسو به هم لکه ټولو غوندې په ۷ کلنۍ ښوونځي ته تللي واست، نو که له ۲۷،۵ کلونو نه ۷ کم کړو، نو پاتې کېږي ۲۰،۵ (شل نیم) کلونه. تاسو هرومرو لایق هم واست او انشا الله چې وئ به هم، نو د ښوونځي ۱۲ کلونه به هم ستاسو له عمره کم کړو، نو پاتې شول ۸،۵ (آته نیم) کلونه.

تاسو هغه مهال د خپل هېواد لپاره یو خدمتګار کېدلی شئ، چې په یوه ځانګړې څانګه کې مسلکي زده کړې تر سره کړئ، چې همداسې هم ده. داسې به ګومان وکړو، چې تاسو د انجینري په برخه کې تحصیل تر سره کړی دئ، نو د انجینیري پوهنځی هم ۵ کاله دی او پاتې درې کلونه مو هم هرومرو په تخصصي پروګرامونو تېر کړي دي، نو که دغه ۸ کلونه هم ستاسو له خواږه عمره کم کړو، نو پاتې کېږي یوازې او فقط شپږ میاشتې.

د هر انسان په باور، چې یو څوک ستاسو عمر ته ورسېږي، نو په ژوند کې یې لوړې او ژورې ډېرې وي، چې له بدمرغي، غم او یوې یا دوو ناروغیو، عملیاتونو، لکه اپنډېکس او داسې نورو سره، ملې بدمرغي وي، چې تاسو هم له دغه حالته مستثنا نه یاستئ، ځکه نو ستاسو له خواږه ژونده خو تر ۵ میاشتو په دغو اړو دوړو کې تېرېږي، چې هغه مهال به د چوپړ په فکر کې هم نه وئ.

له دې بې تېر شو، چې تاسو په وروستیو لسو کلونو کې څو ساعته د تولسي د سریال په کتلو تېر کړي دي، نو پایله دا ده، چې هغه څه چې ستاسو د خواږه عمره د هېواد په خدمت کې تېر شوي دي، نو صرف یوه میاشت ده، چې که دغه د کب میاشت یاده کړو، نو ۲۹ ورځې کېږي، مګر زه بې انصافه نه یم، نو ستاسو چوپړ پوره یوه میاشت حسابوم او هغه هم د میزان میاشت!

پورته څېړنه او محاسبه ښیي، چې تاسو د خپل خواږه عمر د ۵۵ کلونو په اوږدو کې صرف یوه میاشت د هېواد لپاره چوپړ کړی دی او داسې ښکاري، چې تاسو به وروسته له ۵ کلونو تقاعد کېږئ هم، نو له دې کبله چې تاسو د شکر له ناروغي سره لاس او ګرېوان یاست، د وینې فشار مو هم بې انډوله دی او له دې پرته د تشي او پروستات تکلیف هم لرئ، نو فکر نه کوم، چې د راتلونکو پنځو کلونو په بهیر کې به له پنځو او یا شپږو ساعتونو ډېره موده د هېواد په خدمت کې تېر کړئ، مګر بیا هم تاسو ته د هېواد په چوپړ کې بریالیتوبونه غواړم او له لوی څښتن تعالی نه عاجله شفا درته تمه کوم.

آمین یا رب العلمین


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ